ليکوال: شريف بهاند

اگست ۲۰۱۰

# طبيعي زيرمې

# د سوکالۍ وسيله او که د جګړې لامَل؟

## ۱

پيلامه:

تاريخي تجربو ثابته کړې، چې د بشري ټولنې د مادي او معنوي ژوند بېلا بېلې برخې په يو ډول نه يو ډول له سياست سره اړه پيدا کوي. خو دا په دې مانا نه ده، چې سياست د ټولو پېښو ټاکونکی دی، بلکې د هغه تر څنګه اقتصادي ، پوځي او په تيره بيا سوداګريزې اړيکې هم ټاکونکی رول لوبوي. يا په بله وينا،

ـ اقتصادي ودې د ځواک او شتمنۍ تر منځ اړيکې داسې ټينګې کړې، چې اقتصادي وده او پوځي ځواک يو د بل مترادف شوي دي؛

ـ په نړيواله کچه د ازاد بازار رامنځته کېدو، د مخکنيو اقتصادي پراونو په پرتله بنسټيز توپيرونه رامنځته کړل، چې هغو نه يوازې د هيوادونو د ملی اقتصاد پر چارو، بلکې پر نړيوالو هغو ستر اغيز وکړ. د ازاد بازار د سيستم عقلانيت د اقتصادي کارنيا او ګټورتوب ( کارآيی) په زياتوالي او د اقتصادي ودې په لوړوالی کې نغښتی دی. خو بايد يادونه وشي، چې ټولنو د تاريخ په اوږدو کې د امنيت پر ارزښتونو لکه پوځي ځواک او ټولنيز ثبات هم ډېر ټينګار کړی دی.

نو ځکه هيوادونه په تيره ستر هغه په دې ټينګار کوي، چې سياسي، اقتصادي او پوځي ځواک دې يو د بل په خدمت کې وي. له دا ډول اقتصادي او پوځي ګډې همکارۍ څخه په ګټې اخيستنې سره هيوادونو هڅه کړې، خپل ځواک ته پراختيا او ترلاسه شوی دريځ لا نور هم پياوړی او همدارنګه خپل سيالان کمزوري او يا د هغو له نوو څخه مخنيوي وکړي. دې موخې ته د رسيدو لپاره دولتونه، د بشري ټولنې د سياسي واحد په توګه پلان ته، چې

دوي په هغه کې خپلې ښکاره او پټې غوښتنې طرحه کوي، اړتیا لري. د نورو تر څنګ د دولت د پلان تر ټولو مهم فکتورونه دا دي، چې:

۱ ــ واقعیت تنظیم او د هغه د پلي کولو لپاره د عمل په ډګر کې هڅه وکړي؛

۲ ــ د شته (موجودو) ښکارندیو (پدیدو) تر منځه اړیکې درک کړي؛

۳ ــ راتلونکي پرمختیاوې اټکل او که شوني وي د هغو په اړه وړاندوینه وکړي؛

۴ ــ څه چې مهم او با ارزښته دي، هغه له بې ارزښتو هغو څخه توپیر کړي شي؛

۵ ــ دا ومومي، چې دولت [موږ] خپلو موخو ته د رسیدو لپاره کومه لاره غوره کړی ( وګورئ: (Huntington, Samuel P. 2002, S. 33.

څکه په روانه پیړۍ کې د دولتونو ملي ګټې او د دوي ترمنځ شخړې، کړکیچونه او ان جګړې، د تیرې هغې په پرتله، په زیاتیدونکې توګه د جیوستراتیژیکو او جیواکونومیکو معیارونو تر اغیز لاندې دي. له همدې امله د یوې ریالیستې ارزونې لپاره اړینه بریښي، چې د دولتونو په تیره د سترو هغو کړه وړه، د ټولنې د سیاسي واحد په توګه د پورتنیو فکتورونو، تر ټولو دمخه د درې وروستیو هغو، پر بنسټ وڅیړل شي. څکه دولتونه "پوځونه لري، دیپلوماتیکې چارې پرمخ بیایي، د تړونونو په اړه خبرې اترې تر سره کوي، نړیوال سازمانونه تر خپل کنترول لاندې او تر یوه ځایه پورې تولید او سوداګرۍ په خپل واک کې لري او د هغو چارې تر سره کوي" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 38.

خو د اوسنیو نړیوالو شرایطو په پام کې نیولو سره دا پوښتنه رامنځته کیږي، چې په ریښتیا هم دولتونه پر هر څه واکمن دي؟ او که نړیوالې چارې د څو ملیتي کنسرنو د ناڅرګند لاس له خوا تر سره کیږي؟ او یا دا چې له هغو څخه لا لوړ ناڅرګند ځواک، کړه وړه تر سره کوي؟ همدې موضوع ته په نغوتې سره المانی ځانګیز پوه، توماس هانکه Thomas Hanke څومره ښه ویلي دي: " څو ملیتي کنسرني د ولسواکی له لارې ټاکل شوي حکومتونه په خپلو لاسپوڅو تبدلوي او چاپیریال ساتنه او کارګري قوانین د تیرې زماني بوبولاې بولي. په لنډه توګه: د څو ملیتي کنسرنو واکمنی د ملي حاکمیت ځای ترلاسه کوي" (Hans, Kronberger,1998, S. 20).

که څه هم د دغه خیال پلي کیدل د عمل په ډګر کې ګران بریښي، خو سره د هغه هم په دې سترګې نشو پټولې، چې څو ملیته کنسرني د ناڅرګند ځواک په څیر د دولتونو، په تیره د سترو هغو د سیاسي ــ اقتصادي کړنلارو د طرحې او پلي کولو په برخه کې ټاکونکی رول لوبوي او دغه اغیز په تیره په اقتصادي برخه کې په روښانه توګه تر سترګو کیږي. څکه د بیلا بیلو ځانګو کنسرنې نه یوازې دا چې د خپلو تولیداتو لپاره د لګښت کونکو (بازارونو) په لټه کې دي، بلکې دوی د تولید لپاره د نورو ترڅنګ په تیره اومه توکو ته، چې بنسټیز هغه یې له طبیعي زیرمو ترلاسه کیږي، اړینه اړتیا لري.

باید یادونه وشي، چې د بشري ټولنې د ټولنیزو ــ اقتصادي پرمختیاوو سره سم ځینې کشف شوي طبیعي اومه توکي کله د ارزښت وړ او کله هم هغوي خپل ارزښت له لاسه ورکړي. خو په هغو کې ځینې داسې توکي هم شته، چې د بشري ټولنې د تکامل د هر پړاو په بهیر کې، نه یوازې خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی، بلکې د هغو د پیژندل شوو زیرمو په کمښت سره د ستراتیژیکو توکو په نامه نومول شوي او ارزښت یې لا نور هم لوړ شوی دی. دغه توکي د نورو تر څنګ سره او سپین زر، مس، اوسپنه، کلمبیوم، نکل، قلعی، پلوتونیوم، تانتالوم، تیتانیوم، نیوبیوم Niobium، لیتیوم Lithium، ... او داسی نور دي. په دغو کاني توکو کې یورانیوم او تر ټولو دمخه هایدروکاربني زیرمي لکه ګاز او تیل هم راځي، چې د هیوادونو په تیره د سترو صنعتي هغو د اقتصاد او ټولني

لپاره ژوندیز توکي بلل شوي او د دوي د اقتصادي خوځښت (محرک اقتصادي) بنسټيز لاملَ ګڼل کېږي (وګورئ: بهاند، شريف، ۲۰۰۷ ).

که څه هم د هايدروکاربني انرژئ معاصر تاريخ د نولسمي پيړی له دوهمي نيمايي څخه وروسته پيل شوی دی، خو له تاريخي پلوه دغه توکی له ميلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکي هم خلکو پيژنده، چي د تر ټولو د نامتو زيرمو پريوت (موقعيت) يې بابل (اوسني بغداد) ته نږدي د فرات د سيند تر څنګ په حيت Hit کې و. په همدې اړه د يونان نامتو تاريخ پوه، ډيودور Diodor ليکی: "د بابل په هيواد کي د نه باور وړ معجزې تر سترګو کېږي، خو له هغو څخه هيڅ يوه هم، د دې ځای د طبيعي قيرو پرماني ته نه رسيږي" ( Yergin, Daniel: 1991, S. 26).

د بشر د تاريخ په دې پړاو کي دغه توکی ته، چا د ډېرې غوړې، چا هم د روښنايي سرچينه ويله او ځينو نورو بيا هغه د جادويي درملو په نامه يادول. په اوومه پيړی کي د بيزانس د امپراتورۍ وګړو هم د دښمن په تيره بيا د هغوي د بيړيو په وړاندي له "يوناني اور يا، "oleum incendiarum، چي د تيلو او آهک يوه ګډوله (ترکيب) او د نمدبل په ورسيدو سره به يې اور اخيست، ګټه ترلاسه کوله او د هغه فرمول د دولت له اسرارو څخه ګڼل کيده. د دغې امپراتورۍ لارښودو او پوځيانو به د خپلو سرتيرو د غشيو څوکي په دغو موادو لړلي او هغه به يې د ليندیو په مرسته لکه د لومړنيو لاسي بمونو په څير د دښمن په لوري ګوزارول. دغه ګډوله د څو پيړيو لپاره تر باروتو ډيره وېره ونکي وسله ګڼل کيده (وګورئ، Yergin, Daniel: 1991, S. 26 ).

خو په شلمه پيړی کي د تيلو د صنايعو په ودې او پراختيا سره، د نړۍ ماهيت په بنسټيزه توګه بدلون وموند او په تيره بيا دغو دري فکتورونو د تيلو تاريخ تر خپل اغيز لاندي راوست:

**لومړی** فکتور:

په مدرني بڼي سره د پانګي او سوداګرۍ وده او پراختيا. د نولسمي پيړۍ په وروستيو لسيزو کي تيل د سوداګرۍ او صنعت د يوې ستري برخي په توګه رامنځته شول؛

**دوهم** فکتور:

که څه هم تيل د کاليو (متاع) له جملې څخه ګڼل کېږي، خو هغه له ملی ستراتيژيو، نړيوال سياست او ځواک سره نږدې تړاو او له هغو سره اوږه په اوږه په خوځښت کي دي. کله چي د لومړۍ نړيوالي جګړې په ډګرونو کي نفتي ماشينونو د اسونو او د ډېرو د سکارو د لوکوموتيفونو او ماشينونو ځای ونيوه، نو تيل د ملی ځواک د يوه عنصر په توګه رامنځته شول. همدارنګه تيلو د دوهمي نړيوالي جګړې د بهير او برخليک په ټاکني کي هم بنسټيز رول ولوباوه.

**دريیم** فکتور:

په نړيواله کچه د تيلو تاريخ دا روښانه کوي، چي څنګه زموږ نړۍ په يوې هايدرو کاربني ټولنې بدله شوې ده او د انسان پيژندني Anthropologen د ځانګيزو پوهانو په اصطلاح موږ هم په يوه هايدروکاربن انسان بدل شوي يو. (وګورئ، Yergin, Daniel: 1991, S. 11-13 ).

د هايدروکاربني زيرمو ارزښت هغه وخت لا نور هم زيات شو، کله چي په نولسمي پيړۍ کي د بريتانيا د امپراتورۍ په وړاندي د المان او فرانسي دولتونه د سيالانو په توګه رامنځته شول. نو د سترې بريتانيا لپاره دا پوښتنه رامنځته شوه، چي په څه ډول سره بايد د دغه جدی سياسي او اقتصادي ګواښ په وړاندې مبارزه وکړي؟

هماغه وه، چې د سترې بریتانیا په سمندري ځواکونو کې لومړی لارد، جان فیشر په ۱۸۸۲ کال کې د خپل هیواد د حکومت پاملرنه د تیلو ستراتیژیک ارزښت ته ورواړوله (وګورئ Hans, Kronberger,1998, S. 55)، چې د دوي د پوځي ځواک په تیره بیا د سمندري هغه د ماشیني وسایلو تنده پرې ماته او دغه هیواد به وکولی شي، خپل برلاسی (هژموني) پر نړۍ او په تیره بیا پر سمندري لارو لکه د تیر په شاني خوندي کړي. په همدې باب چرچیل پارلمان ته په یوه پیام کې ولیکل: " که په دې بریالي نه شو، چې تیل په لاس راوړو، و به نشو کړي د بریتانیا د اقتصادي پاینت د ساتلو لپاره خوراکي توکي، مالوچ او ۱۰۰۱ نور اړین کالي ترلاسه کړو" ( Daniel, Yergin, 1991, S. 207-208). دا چې د بریتانیا هیواد په خپله د تیلو له زیرمو بې برخې و، نو د هغو د همدې ستراتیژیک ارزښت له امله، د سترې بریتانیا ټولواک، اووم ادوارد د خپل هیواد ځارګر سازمان ته دنده ور وسپارله، تر هغه ځایه چې شوني وي، تیل لرونکي سیمې په کوته او ان هغه تر خپلې ولکې لاندې راولي، چې د هغو په مرسته بریتانیا وکولی شي خپل امنیت او په تیره سمندري برترې وساتلی شي. د چیرچل په وینا: "زموږ د ولس او امپراتورۍ برخلیک، ټوله نیکمرغي او شتمني، چې د څو پیړیو په ترڅ کې مو په سربښندني او برۍ سره ترلاسه کړې ده، په سمندري برترۍ پورې اړه لري، که نه نو هغه ټول به له منځه لاړ شي" ( Daniel, Yergin, 1991, S. 199).

نور هیوادونه لکه المان او فرانسه هم د تیلو په ارزښت پوه وو. په تیره د المان دولت په پام کې لرله، چې د برلین – بغداد د اورګاډي د پټلي په جوړولو سره، له یوې‌خوا د منځنی ختیځ د تیلو زیرمو ته، چې د عثماني امپراتورۍ تر ولکې لاندې وي، ځان ورنږدې کړی او له بلې خوا د سمندري لارو په ارزښت کې کموالي رامنځته او په دی توګه د بریتانیا ګټې هم له ګواښ سره مخامخ او خپلې راتلونکي موخې ترلاسه کړي. هانز ګرونبرګر په همدې اړه لیکی: د برلین – بغداد د اورګاډي د پټلي په جوړولو سره به " الماني سرتیرو، بریتانوي ګټو ته په مصر او سویز په کانال کې ځان ډیر ورنږدې کړي وای. بیا کیدای شواي دوي، د هند په لوري ډیره مهمه ارتباطی لاره تر خپل یرغل لاندې نیولې وای" (Hans, Kronberger,1998, S. 55).

سربیره پر بریتانوي او الماني سیاستوالو، د فرانسې پخوانی سناتور او د صنایعو د چارو وزیر، هنری برنژر Henri Berenger په ۱۹۲۰ کال کې د تیلو دغه ارزښت ته په نغوتې سره ویلی و: " هر څوک چې نفت په خپل واک کې لري، هغه پر نړۍ واکمن کیدای شي. ... ځکه هغه به د ډیزلو په مرسته په سمندرونو واکمن وي. د کروزین په مرسته په هوا او وچه به د بنزینو او د خاورو د تیلو په مرسته ترخپلې ولکې لاندې لري. سربیره پر دې ښایي د هغې عالی شتمنې په مرسته، چې له تیلو ترلاسه او ورته تر ټولو زیاته غوښتنه (تقاضا) شته او تر سروزرو بالارزښته ده، په خپلو همنوعانو باندې له اقتصادي پلوه [هم] واکمن وي"( Massarrat, Mohssen, 2002, S. 2). دا په دې مانا چې له نولسمې پیړۍ راپدېخوا د تیلو او ګازو د زیرمو تر ولکې لاندې راوستل او د هغو ساتنه (حراست) د جګړو بنسټیزه موخه وګرځیده او په عین وخت کې تیل د جګړې د پرمخ بیولو په ځواک هم بدل شول. یا په بله وینا د جګړو تجربو ټولو مسؤلو سیاستوالو، اقتصادي لاربنودو او پوځي مشرانو ته په ډاګه کړه، چې راتلونکي وسله والې شخړې او جګړې بې د تیلو له پوره اندازه زیرمو او د هغو له پر له پسې پوره کولو پرته نه شي ګټل کیدای.

نور بیا

اخځای:

1- Huntington, Samuel P.: Kampf der Kulturen, Die Neugestaltung der Weltpolitik im 21. Jahrhundert, 4. Auflage, München, 2002
2-Yergin, Daniel: Der Preis. Die Jagd nach Öl, Gold und Macht, Frankfurt am Main, 1991
3- Kronberger, Hans: Blut für Öl. Der Kampf um die Ressourcen, Wien ,1998
4- Massarrat, Mohssen: Der 11. September und der Afghanistan-Konflikt im Kontext der US-Ölinteressen und Geostrategie, 2002
۵ ـ بهاند، شریف: بریتانیا: د طبیعي زیرمو په باب زړې نوې ستراتیژي، ۲۰۰۷ ، وګورئ په:
http://www.afghan-german.de/upload/Tahlilha_PDF/bahand_britania.pdf